نبوي څلاوي:

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي:

ژباړه: بد ګماني مه کوئ او د ګمان
څخه ځانونه وساتئ، ځکه په ګمان
کولو کې دروغ ډېر پېښېږي.

«رواه الترمذي»

طلوع افغان

غوره خبري:

حضرت علي کرم الله وجهه:

د انسان تر ټولو لوی دښمن د
هغه خېته ده.

مؤسس: مولوي صالح محمد "هوتک"

د امتياز خښتن: د کندهار اطلاعات او فرهنګ رياست

په اوونۍ کې دوه واره چاپېږي

د تأسيس کال: ۱۳۰۰ لمريز، دوشنبه ۵/ذي الحجة الحرام/۱۴۴۶ هـ ق، ۱۲/غبرګولی/۱۴۰۴ ل کال - ګڼه (۱۲)

Monday-2-June-2025 Issue: 12

د مطالبو سرليکونه

– ژوند د بل په خوښه او... (حشمت الله "مجددي")

– مجاهد او اختر (صابر جان "محصل")

– د شيطان لښکر

– د الله تعالی وعده ده (مطيع الله "ذهين")

د طلوع افغان خبري (سرليکنه)

انارګل مشاعره: د کندهاري ادب انځور!

کندهار په خپل غېږ کې ډېر وياړلي څلمي شاعران او ترنم ويونکي لري، دوی د کندهاري ادب انځورونکي دي، په کندهار کې له کلونو راهيسې په کال کې يو وار د انارګل په نوم مشاعره جوړېږي او پر مهال يې د کندهار او د افغانستان د ګوټ ګوټ څخه بېلابېل شاعران، ترنم ويونکي را ټولېږي او ښکلي شعرونه او ترنمونه وړاندې کوي او په دې توګه هم خپله او هم د زړونو مينوال او ادبي تنده خړوبوي.

سږکال هم د تېرو کلونو په څېر انارګل مشاعره د سولې، اطمينان، مينې او سکون په فضا کې ترسره سوه، چې د کندهار د مشهوره شاعرانو او ترنم ويونکو سربېره د افغانستان په کچه بېلابېلو ټکړه او برجسته شاعرانو او ترنم ويونکو ګډون پکښې کړی و.

د انارګل مشاعره سږکال د نورو کلونو په پرتله خورا منظمه ترسره سوه، لامل يې دا و، چې د اميرالمؤمنين شيخ صاحب حفظه الله د دفتر له لوري د ټول افغانستان د مشاعرو له پاره يو طرزالعمل جوړ سوی و، انارګل لومړنۍ مشاعره وه، چې د همدې طرزالعمل مطابق جوړه سوه، په دې ډول سره د افغانستان د نورو ولايتونو له پاره هم يو الګو او مثال سو.

شعر د اسلام په مبارک دين کې ډېر ارزښت لري، لکه رسول الله صلی الله عليه وسلم چې فرمايي:

ژباړه: بېشکه ځينې شعرونه حکمت دي.

حسان بن ثابت بن عمرو هغه صحابي و، چې رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يې د شعرونو ستاينه کوله.

شعر د فرهنګونو د انځورونې يوه غوره وسيله ده، د شعر په مرسته په ټولنه کې عامه پوهاوی رامنځته کېدای سي، شعر خلکو ته د ښه تفريح تر څنګ د فکر کولو توانايي ورکوي، شاعر کولای سي، مختلف پيغامونه د شعر په ژبه ټولني ته وړاندې کړي.

د شعر او شاعرۍ اهميت ته په کتو د افغانستان په تقريبًا ټولو ولايتونو کې د انارګل په څېر کلنۍ مشاعرې جوړېږي، چې پر مهال يې زرونه خلک را ټولېږي، د افغانستان اسلامي امارت مسئولينو د شعر او ادب دې مهمې ته برخي خورا ډېره پاملرنه کړې ده.

د افغانستان د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت هڅه کړې، چې د مشاعرو له لاري د خلکو فکري روزنه وکړي، هغوی ته د سالمې تفريح زمينه برابره کړي او هغه شاعرانو ته لومړيتوب ورکړي، چې د ګودر او مازديګرې پر ځای علمي، ديني، ټولنيز او اخلاقي شعرونه وليکي او مينه والو ته يې وړاندې کړي. اداره

د اطلاعات او فرهنګ رياست له لوري د انارګل دوديزه کلنۍ مشاعره په شانداره مراسمو ولمانځل سوه

په انارګل مشاعره کې د رياست الوزرا اداري مرستيال الحاج مولوي عبدالسلام حنفي، د کور او ښار جوړولو چارو وزير مولوي حمدالله نعماني، کندهار والي حاجي ملا صاحب او مرستيال يې ملا محمد صادق انقلابي، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د خاص ځواک قوماندان او د کندهار ولايت امنيه قوماندان الحاج طالب مولوي صاحب، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معين مولوي عتيق الله عزيزي، د نشراتو معين مولوي حيات الله مهاجر فراهي، د اسلامي امارت وياند مولوي ذبيح الله مجاهد او مرستيال يې مولوي حمدالله فطرت، د سپورټ او بدني روزنې عمومي رئيس مولوي احمدالله وثيق، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ترنم رئيس مولوي امان الله مستغفر، د اطلاعات او فرهنګ رئيس مولوي انعام الله سمنګانی، امارتي مسئولينو، د هيواد نامتو ترانه ۲مخ

د بشري جنايت په غبرګون کې د رياست الوزرا مقام اعلاميه!

په فلسطين کې د نسل وژنې او ستر بشري جنايت په غبرګون کې د رياست الوزرا مقام اعلاميه!

په ډېر تأسف سره چې د فلسطين په غزه کې د اسرائيلي اشغالګرو له خوا نسل وژنه جريان لري او هره ورځ هلته وضعيت د ټولو انساني اصولو خلاف، د لا ډېر خرابېدو پر طرف روان دی.

د ښځو او ماشومانو په ګډون، سوونه انسانان خپل ژوند له لاسه ورکوي، د بشري مرستو لاري ۴مخ

د خرقې مطهرې او لوی امپراتور احمد شاه بابا د مقبرې دېوال ورغول سو

د کندهار ښاروالۍ وياند سيف الله عاصم ويلي، ښاروالۍ د خپلو انکشافي کارونو په لړ کې، د کندهار ښار په لومړۍ ناحيه کې د خرقې مطهرې او لوی امپراتور احمد شاه بابا د مقبرې غربي طرف دېوال په اساسي او معياري توګه ورغاوه.

ياد دېوال د ۱۱۷ متره په اوږدوالي، ۲،۵ متره جګوالي او ۵۰ سانتي په پلنوالي سره رغول سوی چې فلزي پنجره او هم غربي طرف ته دروازه ور کول سوې ده.

د اوبو ذخيره کولو د يو لوی بند جوړېدو چاري بشپړې سوې

د کندهار ولايت په تخته پل ولسوالۍ کې، د اوبو ذخيره کولو د يو لوی بند جوړېدو چاري بشپړې سوې دي.

د کرهنې، اوبو لګولو او مالدارۍ رياست وياند محمد حنيف حقمل باختر خبري آژانس ته ويلي، د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام په مالي ملاتړ، د تخته پل ولسوالۍ د بيانزو په سيمه کې د ۳۵ ميليونو ۹۳۸ زره ۸۹۵ افغانيو په ارزښت، د اوبو ذخيره کولو د يو لوی بند جوړولو چاري بشپړې سوې دي. ۴مخ

د سپين بولدک له لاري ۱۴۵ مهاجري کورنۍ هېواد ته راستني سوې

د بل خبر له مخې د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کې د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو باختر خبري آژانس ته ويلي، د شنبې په ورځ ۱۰۲ مهاجري

د کندهار ولايت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کې، د کډوالو د ثبت او تثبيت کمېټې مسئولينو باختر خبري آژانس ته ويلي، د يکشنبې په ورځ ۴۳ مهاجري کورنۍ چې د غړو شمېر يې ۲۶۰ او ۱۴ تنه زنداني مهاجر خپل هيواد ته راستانه سول. ۴مخ

يو مهم سړک جوړ او ګټې اخيستني ته وسپارل سو

د کندهار ولايت په سپين بولدک ولسوالۍ کې، يو مهم سړک جوړ او ګټې اخيستني ته وسپارل سو.

د کندهار ولايت مقام مسئولينو ويلي، د سپين بولدک ولسوالۍ اړوند، د لوی کاريز کلي عمومي سړک چې د سپين بولدک ولسوالۍ له عمومي سړک سره نښلول سوی، جوړ او ګټې اخيستني ته وسپارل سو. ياد سړک ۱۸ کيلو متره اوږدوالی لري، چې د ۸.۲ ميليونو افغانيو په ارزښت، د دوو مياشتو په موده کې په اساسي او معياري ډول جغل اندازي او ګټې اخيستني ته وسپارل سو.

په فراه کې د ۱۳۳ پراختيايي پروژو چاري پيل سوې

د فراه ولايت د ګلستان ولسوالۍ په بېلابېلو کلو کې د نږدې ۲۰۰ ميليونو افغانيو په لګښت، د ۱۳۳ پراختيايي پروژو چاري پيل سوې دي.

په جوړو سوو مراسمو کې د فراه والي مولوي غوث الدين رهبر ويلي، د يادو پروژو په بشپړېدو سره به، د ګلستان ولس له پاره ډېري اسانتياوې برابرې سي او تر څنګ به يې د دې ولسوالۍ د سړک پاته برخه، د ولايت له بودجې بشپړه سي او د نيمروز ولايت د دلآرام ولسوالۍ له سړک سره ونښلول سي. ۴مخ

بیلابیل موضوعات

ژوند د بل په خوښه او طرز مه قربانوئ!

حشمت‌الله "مجددي"

په زیاتو کورونو کي که درته ووایم د پخوا څخه دا عادت دی، چي که چیري له بهره مېلمه راسي، د کور پر غړو یو رنګه مخ ولګېږي. بس! د کور پر پاکۍ راواچوي، که څه هم کور به پاک او سُتره وي. غالۍ پر پوله، دا و هغه درانه کارونه وکړه، چي ګوندي مېلمانه راته را نه سي او دا فکر و نه کړي چي دا څومره پاته او خراب ژوند یې دی. دا مرض پر ښځو سربېره په نارینه وو کي هم عام سوی دی.

د خارج څخه د راغلو کسانو ولاکه دوني زده وي، لکه زموږ د کورونو خلکو دا! چي خبره د بهر د مېلمنو او یا شتمنو خلکو دا سي، وایي: سیالان دي، ځان به کښته نه ورته راولې. ښه! نو، چي سیالان دي، نو باره ځان د بربادۍ و کندي ته غورځوې، ځان په پورونو کي غرقوې او که هست و نیست دي خاوري کوې. ما په ډېرو کورونو کي لیدلي، کوم کور ته چي غریب او یا لوېدلی مېلمه ورسي، تر سر یې تېروي، وضعیت لا په ورین تندي نه ور سره کوي. دا چي پر داسي مېلمنو ستا د کور شلومبې او وچه ډوډۍ لا نه ورکېږي. دا چي بیا په ورین تندي دوه یا درې رنګه خواړه ورته کښېږدې، د الله پاک خوښي به در نصیب سي.

زما هدف دا نه دی چي د خارج مېشتو عزت مه کوئ، بلکي دواړو ته باید په یوه سترګه وکتل سي، دا چي زموږ د ټولني فکر داسي جوړ سوی، دا بیا بېله خبره ده. بله خبره دا ده چي الله پاک هر رنګه ژوند درکړی وي، همغسي اوسه. په خانۍ کي د فقیرۍ او په غریبۍ کي د خانۍ چمونه مه کوی. رحمان بابا وایي:

لکه ونه مستقیم پر خپل مقام یم
که خزان راباندي راسي که بهار

د الله سبحان و تعالی پر راکړي ژوند باید شکر ایستونکي اوسو. تر ځان کښته خلکو ته وګورو، نه تر ځان پورته کسانو ته! په ژوند کي ساده توب غوره کړو او ژوند خپل په خوښه وکړو، نه د نورو تقلید. دا به ډېره بده وي، چي موږ یو رنګه ژوند کوو او د نورو مخته بل رنګه ځان ښکاره کوو.

په پښتو کي یو متل دی، وایي:

"کارغه د زرکي تګ کاوه، خپل یې هېر سو."

دا چي نورو ته ګورو او تقلید یې کوو، باره به خپل اصلي ژوند راڅخه پاته وي. په یو لړ ستونزو کي به راګیر یو، خپله اصلي لار به را څخه ورکه وي.

دا ټول د الله پاک تقسیم دی، یوه ته شتمني ورکوي، د بل څخه یې اخلي. یوه ته یو رنګه ژوند ورکوي، بل ته بیا بل رنګه ژوند. ټوله یو رنګ نه سي کېدلای او مه هم په ژوند کي له چا سره ځان برابروئ.

بله خبره داده چي له نورو سره ځان تر اندازې زیات مه پرتله کوئ، ځکه په افراطي ډول له نورو سره د ځان پرتله کول، د حقارت او د کمزورۍ نښه ده.

تاسو په ټولو جسمي او رواني عادتونو او کړنو کي په ځان پوري تړلي یاست، تاسو د بل هیچا په څېر نه یاست. دومره په دلیل او برهان پسي مه ګرځئ چي تاسو تر نورو څومره پورته او یا کښته یاست، په دې فکرونو کي ځان مه ښکېلوئ. له ځان سره انصاف وکړئ، ځان خپله له ګواښ سره مه مخ کوئ. ځان ته په کمه سترګه مه ګورئ، د پوهي قدرت مو دومره لوړ کړئ چي تل پورته وګورئ. ستاسو راتلونکې د نورو له راتلونکي سره برابره نه ده، له هغوی سره ډېر توپیر لري. هغه څه مو چي په خپل ذهن کي تصویر کړي، د نورو له ذهن سره یې مه پرتله کوی، تل د ځان په وړاندي د خوښیو کړکۍ خلاصي کړئ، هڅه وکړئ چي یوازي او یوازي د خپل ځان په څېر و اوسئ!

مجاهد او اختر

صابر جان "محصل"

د مني موسم و او زموږ د کور یو دېوال باران نړولی و، پلار مو د نړېدلي دېوال په جوړولو مصروف و او زموږ یو ورور د دېواله په بیارغونه کي له والد صاحب سره همکاري کوله، زه هم ماشوم وم، خو د خپل وس په اندازه مي د دېوال په رغونه کي ونډه اخیستې وه.

زه، ورور او یو مي وراره و، په خټه کي ختلو چي د کلي له لوړي خوا څخه د ملا محمد ګل جوزجاني بایپور موټر راښکاره سو، پر تور بایپور موټر سپین په کلمه مزین بیرغ رپېدی، موټر زموږ خواته راغی او نړېدلي دېوال ته په ۲۰ متره فاصله کي ودرېدی، ملا محمد ګل جوزجانی د هغه یو بل مجاهد ملګری له موټره راکښته سول او زموږ خواته راغلل.

ملا محمد ګل جوزجانی ډېر خوش مزاجه او خندرویه انسان و او الله تعالی یو عجب شجاعت ورکړی و.

کله چي موږ ته رانږدې سو، تر سلام ویلو وروسته یې زموږ والد صاحب ته وویل، کاکا دا خو سم تکړه یې او دېوال دي هم ډېر خوندور وهلی دی! والد صاحب مو ورته وخندل او ورته و یې ویل: چیري روان ئې له خیره مجاهد!

محمد ګل جوزجاني ورته وویل: کندز ته ځم له ملګرو سره څوک نسته.

دا هغه وخت و چي د تېر امارت پر مهال د تخار او د کندز ترمنځ، د اسلامي امارت د ځواکونو او د مسعود د باغیانو ترمنځ خط پروت او د جنګ سنګرونه ګرم ول.

پلار مو ملا محمد ګل جوزجاني ته وویل: اختر ته درې–څلور ورځي پاته دي، اختر به دي تېر کړی وای، تر اختر وروسته به تللی وای!

جوزجاني صاحب ورته وویل: د مجاهد اختر خو په سنګر کي هم ښه تېرېږي، یو څه خواړه او کلچې به را واخلو، له ملګرو سره په ګډه به یې په سنګر کي اختر ولمانځو، دا یې زموږ اختر!

د موټر له ټیپ څخه د ملا فقیر محمد درویش او د سراجي صاحب په غبرګو آوازونو د ترانې ږغ راتلی، چي جوزجاني صاحب زموږ والد صاحب ته غېږه ورکړه، زموږ والد صاحب جوزجاني صاحب د مخ پر دواړه خواوو ښکل کړ او رخصت یې کړ.

موږ ماشومانو ته جوزجاني صاحب څو روپۍ راکړې او د موټر پر لور یې ګړندي ګامونه واخیستل او روان سو.

د والد صاحب څېره څه خپه غوندي ښکارېدله او ویل یې: کاش اختر یې دلته له موږ سره تېر کړی وای.

زه په دې نه پوهېدم چي د اختر په خوښیو کي د کور اهل او عیال هجرت څومره دروند وي؟

ورځ د اختر کي دي ساتلي سنګرونه واآشنا
سلامونه واآشنا – سلامونه وا اشنا

له کلي د جوزجاني همدا وروستی رخصت سو چي بیا راستون نه سو او دوه میاشتي وروسته د تخار په اشکمش ولسوالۍ کي له دښمن سره په مخامخ تعرض کي په شهادت ورسېدی او ناوې کونډه او یو وړوکی ماشوم حامد ګل یې تر شا پرېښوول.

کلونه تېر سول، زه هم زلمی سوم او پر هیواد مو د غرب خونخوارو یرغلګرو یرغل راوړ، موږ ته هم له کوره سوونه کېلو متره لیري الله تعالی د جهاد په سنګرونو کي د اختر د تېرولو سعادت را نصیب کړ.

اختر مو په سنګر کي له داسي مجاهدو ملګرو سره تېر کړ چي ځیني په کښي په کلونو له کوره مسافر مجاهدین هم را سره ملګري ول.

دغه اختر مو په ژوند کي ځکه ځانګړی اختر و، چي د جهاد غوندي د الله تعالی په عظیم عبادت کي راباندي تېرېدی.

ماته په دې اختر کي د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین هغه اخترونه سترګو ته درېدل چي دوی به له خپلو هیوادونو سوونه میله لري، د روم او فارس له امپراتوریو سره په جهاد او معرکه بوخت ول او د اسلامي نظام له قلمرو به یې دفاع او د نړۍ تر نورو ملتونو به یې د اسلام د رسولو هڅې کولې.

د نن ورځي هغه مجاهد چي د اسلامي نظام او د هیواد له سرحداتو د اختر په مبارکو شپو–ورځو کي ساتنه او دفاع کوي، هغوی د حضرت خالد بن ولید او د حضرت ابوعبیده بن جراح رضي الله عنهما د امت د سترو سپاه سالارانو پر پله روان دي چي اجر به یې پر لوی رب جل جلاله او حشر به یې د امت له سترو شخصیتونو سره وي، ان شاءالله!

ای د دین هیواد او د ارزښتونو ساتونکې مجاهده!

تاسو الله تعالی د خپل دین د ساتني له پاره غوره کړي یاست، چي دا ډېر لوی سعادت او شرف دی.

وه د سنګر طالبه مبارکۍ ته به درځم
د اختر ورځې دي مخ دي له دوړو پاکوم

د (۱) مخ پاته: د اطلاعات او فرهنګ ریاست...

ویونکي الحاج ملا فقیر محمد درویش، د کندهار او هیواد له نورو ولایتونو لسونو شاعرانو، نعت او ترانه ویونکو او زرونو ولسي خلکو ګډون کړی و.

په مشاعره کي د ریاست الوزرا اداري مرستیال الحاج مولوي عبدالسلام حنفي، د کور او ښار جوړوني چارو وزیر مولوي حمد الله نعماني، کندهار والي حاجي ملا شېرین اخند او مرستیال یې ملا محمد صادق انقلابي، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د خاص ځواک قوماندان او د کندهار ولایت امنیه قوماندان الحاج طالب مولوي صاحب، د اطلاعات او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي، د نشراتو معین مولوي حیات الله مهاجر فراهي، د اسلامي امارت ویاند مولوي ذبیح الله مجاهد او مرستیال یې مولوي حمدالله فطرت، د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئیس مولوي انعام الله سمنګاني، امارتي مسئولینو، د هیواد نامتو ترانه ویونکی الحاج ملا فقیر محمد درویش، د کندهار او هیواد له نورو ولایتونو لسونو شاعرانو، نعت– ترانه ویونکو او زرونو ولسي خلکو ګډون کړی وو.

په دې مشاعره کي مولوي عتیق الله عزیزي د اسلامي امارت له خوا د مشاعرو د بندېدو آوازې رد کړې او هغه یې تبلیغات وبلل.

هغه وویل: "څه وخت مخکي مغرضو رسنیو دا تبلیغات کول چي په افغانستان کي د مشاعرو لړۍ بنده سوه، نن موږ او تاسو ولیدل چي په تاریخي کندهار کي د انارګل په مناسبت مشاعره جوړه سوه، آیا دا د مغرضینو په وړاندي یوه درنه او تاریخي څپېړه نه ده؟"

د عزیزي په قول، اسلامي امارت د شعر او آدب، شاعرانو او مشاعرو د بندولو او محدودولو اراده نه لري، بلکي د آدیبانو، شاعرانو او مشاعرو د ښه انسجام په خاطر باندي هلي ځلي کوي.

د هغه په خبره، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی له لوري د مشاعرو له پاره د جوړ سوي طرزالعمل له مخي اطلاعات او فرهنګ وزارت مکلف سوی، چي د کال په پای کي د ټولو شاعرانو د شعرونو آرزونه وکړي او د هغوی د ستایني له پاره مکافات په نظر کي نیسي.

د کندهار د اطلاعات او فرهنګ رئیس د مشاعرې ګډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی له خوا شعر او آدب ته د پاملرني په موخه، یو طرزالعمل جوړ سوی دی او د هغه طرزالعمل پر اساس لو مړنۍ مشاعره په کندهار کي جوړه سوه، هغه د ولایت مقام، امنیې قوماندانۍ، ښاروالۍ، بر ېښنا او استخباراتو پر ریاستونو سربېره، د روشن مخابراتي شبکې د مسئولینو څخه مننه وکړه، چي د مشاعرې په جوړولو کي یې همکاري ورسره کړې ده.

د هیواد نامتو ترانه ویونکي الحاج ملا فقیر محمد درویش د طلوع افغان جریدې سره د خبرو پر مهال وویل، خوشحاله دی چي په مشاعره کي ګډون کوي، هغه د انارګل مشاعره لومړنۍ مشاعره یاده کړه، چي د اسلامي امارت او مشاعرو اصول ته په پام کي نیولو سره جوړه سوې ده.

درویش وویل: "د نورو مشاعرو له پاره یوه رهنمایي ده، چي باید دغسي مشاعرې وسي، په مشاعرو کي خدای نخواسته داسي الفاظو او داسي موضوعاتو ته اشاره و نه سي، چي پر هغو بیا مشکلات را پیدا کېږي، یا پر چا باندي اعتراض وي، یا د چا په حق کي څه کمی او زیاتی بیان سوی وي."

د یادوني وړ ده، چي یاده مشاعره د ۱۴۰۴ ل کال د غبرګولي میاشتي پر اتمه نېټه، پنجشنبې په ماښام پیل سوه او د شپې تر ناوخته یې ادامه پیدا کړه، په مشاعره کي شاعرانو، نعت او ترانه ویونکو خپل شعرونه، نعتونه او ترانې د مشاعرې ګډونوالو ته واورول.

د شیطان لښکر

خوښونه: شهید شیخ رحیم الله "حقاني"

(۱۲۱) برخه

د خوارجو نوې څېره (داعش)

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله

امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله [مړ: ۱۵۰ هـ] خوارجو ته باغي او واجب القتل وایي، په دې هکله د امام ابو مطیع او امام اعظم رحمه الله ترمنځ خبرې - اترې راوړل کېږي.

ابو مطیع رحمه الله روایت کوي: ما د امام ابوحنیفه رحمه الله څخه پوښتنه وکړه: د محکم یعني ښکاره او منل سوي خوارجو په اړه ستا څه رأیه ده؟

امام اعظم: بدترین خلک دي.

ابو مطیع: آیا موږ هغوی ته کافران ووایو؟

امام اعظم: نه! موږ به له هغوی سره په هغه توګه جنګېږو چې د اهل خیر امامان علي او عمر بن عبدالعزیز رضي الله عنهما او داسي نور ور سره جنګېدلي دي.

ابو مطیع: خوارج خو د الله تعالی لویي بیانوي، لمونځ کوي او د قرآن کریم تلاوت کوي؟

امام اعظم: آیا تا ته د حضرت ابو امام رضي الله عنه حدیث یاد نه دی؟ کله چې هغه د دمشق جامع جومات ته ننوتی، نو حضرت ابو امامه رضي الله عنه ابو غالب حمصي ته وویل: اې ابو غالب! دا خوارج د دوږخیانو سپي دي، دا خوارج د دوږخیانو سپي دي او تر آسمان لاندي بدترین مړي دي (بیا یې اوږد حدیث بیان کړ) ابو غالب، حضرت ابو امامه رضي الله عنه ته عرض وکړ: دا ټولي خبري ستا خپله رأیه ده که تا له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي؟

ابو امامه رضي الله عنه وفرمایل: که ما له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د دوی په اړه یو، دوه، درې یا اووه ځله اورېدلي نه وای، نو ما به تاسي ته نه بیانولای، (بلکې ما ډېر زیات دا کلمات د هغه له مبارکې خولې اورېدلي دي) نو ځکه یې تاسي ته بیانوم.

۲- امام شمس الدین السرخسي رحمه الله:

د حنفي فقهي مشهور او نامتو امام شمس الدین السرخسي [مړ: ۴۸۳هـ] خوارج نه یوازي باغیان ګڼي، بلکې د مسلمان حکومت له پاره یا د مسلمانو ډلو له پاره د دوی په خلاف له کافرانو مرسته اخیستنه هم روا ګڼي، په دې اړه د ده فتوا داده:

د مسلمان حکومت له پاره د خوارجو پر خلاف، له باغیانو او ذمیانو مرسته اخیستنه، هیڅ مشکل نه لري، ځکه دوی د حق د سرلوړۍ له پاره جنګېږي.

۳- حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله:

حافظ ابن حجر عسقلاني رحمه الله [مړ: ۸۳۲ هـ] د یو حدیث په شرحه کې لیکلي دي:

په حدیث کې د هغه چا له وژلو چې د حکومت پر خلاف بغاوت کوي، تر هغه منعه راغلې ده، ترڅو هغه د وسله وال جنګ له پاره تیاري یا په جنګ پیل وکړي، دا حکم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د دې حدیث په اساس دی: کله چې دوی بغاوت وکړ، نو ویې وژنئ او امام طبري رحمه الله په همدې باندي د هغه چا په حق کې اجماع رانقل کړې ده چې د خپلي عقیدې له امله د کفر نسبت نه ورته کېږي او د عمر بن عبدالعزیز څخه یې په خپل سند کې نقل کړي دي چې ده د خوارجو په اړه داسي خط لیږلی و:

"له دوی سره تر هغه وخته مه جنګېږئ، ترڅو چې ناحقه وینه توی نه کړي، یا د چا مال وانه خلي، که داسي یې وکړل، نو بیا په حکومتي کچه ورسره وجنګېږئ، که څه هم زما د اولادې وي او د ابن جریج په حواله سره یې روایت کړی دی، چې د عطا څخه یې پوښتنه وکړه: کوم شی له خوارجو سره جنګ راته روا کوي؟

عطا رحمه الله وویل: کله چې هغوی پر لاري خلک شکوي او عام امن ته خطر جوړ کړي او امام طبري رحمه الله له امام حسن بصري رحمه الله څخه په خپل سند روایت کړی دی: له حسن بصري رحمه الله د هغه چا په اړه پوښتنه وسوه چې نظریه یې د خوارجو وي، خو له هغوی سره په جنګ کې نه شریک کېږي؟ نو ده وفرمایل: د عوامو له پاره د عمل ارزښت له رایې څخه زیات دی.

حافظ ابن حجر رحمه الله د خوارجو د باغي کېدلو او فاسق کېدلو په اړه لیکلي دي:

له اهل سنت زیاتو اهل اصولو دا موقف غوره کړی دی چې خوارج فاسق دي او دوی فاسق ځکه بلل سوي، چې د یو فاسد تأویل په مټ یې مسلمانان کافر ګرځولي دي او د همدې فاسد تأویل پر اساس د خپلو مخالفینو وینه تویول او مال یې حلال بولي او د کفر او شرک شاهدي وربانديي ورکوي.

علامه ابوبکر الخلال په السنة کې په خپل سند سره د یوسف بن موسی روایت راوړی دی: ابو عبدالله یعني امام احمد بن حنبل څخه پوښتنه وسوه: آیا خوارج کافر دي؟ ده وفرمایل: د دین څخه وتلي خلک دي. بیا پوښتنه وسوه: خوارج کافر دي؟ ده بیا هغه جواب ورکړ: باغي دي خو د دین څخه وتلي دي.

د خوارجو د وژلو پر واجب کېدلو د محدثینو دلایل:

په تېرو ورقو کې دا خبره کېدله چې خوارج کافر دي او که باغیان؟ په هر صورت کې له دوی سره جنګ او له منځه وړل ضروري دي، دلته به موږ څو نوري حوالې هم وړاندي کړو چې دا ځني معلومېږي چې په دولتي کچه د خوارجو له منځه وړل واجب دي.

د خوارجو د وژلو وجوب د ابو امامه رضي الله عنه د حدیث څخه تائید کېږي، کوم چې ابو غالب رحمه الله روایت کړی دی: چې حضرت ابو امامه رضي الله عنه د دمشق د جامع جومات له زینو سره څو سرونه ولیدل، نو د خوارجو په اړه یې وفرمایل:

دا خوارج د جهنم سپي دي، تر آسمان لاندي بدترین مخلوق دي او هغه بهترین شهید دی چې دوی یې ووژني، بیا یې دا آیت تلاوت کړ:

ژباړه: "هغه ورځ چې څو مخونه به تک سپین وي او څو مخونه به تور وي."

ابو غالب فرمایي: ما حضرت ابو امامه رضي الله عنه ته عرض وکړ: آیا دا خبره تا له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلې ده؟ هغوی وفرمایل: که ما دا خبره له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یو، دوه، درې، څلور تر دې چې اووه ځله اورېدلې نه وای، نو هیڅکله به مې تاسي ته نه وای بیان کړې، (زیاته مې اورېدلې ده، ځکه یې درته بیانوم) امام ترمذي فرمایي: دا حدیث حسن دی.

امام احمد او ابن ماجه د اعش په سند سره له حضرت ابن ابي اوفي رضي الله عنه څخه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

خوارج د جهنم سپي دي.

د سفیان بن عیینه له لاري له ابو غالب روایت دی چې حضرت ابو امامه رضي الله عنه فرمایي:

دا خوارج بدترین مړي دي چې تر آسمان لاندي وژل سوي او بهترین شهید دی، هغه چې دې د دوږخ سپیانو مړ کړی وي، د دوږخ سپیان دي، دا خلک تر بغاوت وړاندي مسلمانان وو، خو د خروج له امله کافر سول.

ابو غالب فرمایي: ما له ابو امامه رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه: اې ابو امامه! دا ستا خپله رأیه ده؟ نو ویې فرمایل: نه! بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي دي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خوارجو په اړه دا هم فرمایلي، دا ډله به په هره پېړۍ او په هر دور کې تر قیامت راتلو پوري او د دجال تر راوتلو پوري وخت پر وخت راوځي، لکه په دې حدیث کې چې احمد، نسایي، بزار او حاکم روایت کړی دی، راځي:

حضرت ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: په آخري زمانه کې به یو قوم راووځي، ګواکې دا خارجي هم د هغوی څخه دي.

په بل روایت کې داسي دي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ختیځ له لوري به څه خلک راووځي، ګواکې دا خارجي سړي هم د هغوی څخه دي، د هغوی خویونه او نښې به دا وي: د قرآن کریم تلاوت به کوي، خو قرآن به یې تر حلق نه کښته کېږي، د اسلام د دین څخه به داسي تېز ووځي، لکه غشی چې له ښکاره ووځي، نښه یې داده چې سرونه به یې خریلي وي، دا خلک به په هر دور کې راوځي، تر دې چې د دوی آخري ډله به له دجال سره ملګري سي او له مسلمانانو سره به وجنګېږي، نو تاسي چې په کوم وخت کې هم له دوی سره مقابله کوله، نو ویې وژنئ، دا بدترین مخلوق دی او د بدو کړنو خاوندان دي. نور بیا...

د الله تعالی وعده

مطیع الله "ذهین"

څو ورځې وړاندې د غزې د مظلوم او بې وسه، خو په ایماني قوت د سمبالو مجاهدینو د مبارزې، مجاهدې او مقاومت (۶۰۰) ورځې پوره سوې.

سړی د دې خلکو ایمان، غیرت، شجاعت، مبارزې او نظم او د عام ولس صبر، استقامت او ثبات ته حیران سي، چې د دونده قربانیو، سختیو، لوږو او محرومیتونو سره - سره یې بیا هم مقاومت روان دی او دا نن - نن یې هم پر وحشي دښمن ښه سم ګذارونه کړي دي.

پر الله تعالی مو ایمان او عقیده ده او د الله تعالی وعده هم داده، چې بالاخره به بریا د حق وي.

الله تعالی د سورة النور په (۵۵) نمبر آیت کې فرمایي:

ژباړه: او حتماً به (الله تعالی) د دوی خوف او بېره په امن بدلوي.

شعر او آدب

د طلوع رنګیني وړانګې

غزل

نوراحمد "قرآن مل"

شور دې انار ګله د هر درد په نظاره راځي
دلته چې پر زخم د هر تپ تېره شېبه راځي

موږ د خال او خط سندري ګونګې کړې
ځکه مو و خولې ته حماسه راځي

کاش زخمي غزې لار دې پرانیستې وای
بیا به دې لیدلای دا نامیان پر ده خواجه

دلته د اسلام ناموس ساتنه د هر چا دنده
دا توپیر یې نسته چې کوم یو په قومانده راځي

زما تانده ځواني، تنکی ارمان او دا پرچول غزا
خدایه دې امت ته به آرام کومه لحظه راځي

مسته کندهاره د زمریو مېندو یاد لره
ستا د حماسو ډول تر مسکو او امریکه راځي

زموږ هره لحظه د خپل ایمان د تقاضا تکل
ګوره به چې کوم یو پردیپال په روغه پښه راځي

ماتي مو هنداري ستا د حسن د پریو کړې
راسه پسر لیه "قرآن مل" جلوه جلوه راځي

غزل

روبین "حسن"

وخت بو ډا سو اندامونه یې رپېږي
د خلیل تبر تر نن پوري چلېږي

که خبره دې په وس ده نو کوه یې!
د سبا خبري نن باندي غمېږي

زموږ فکرونه مشوش نه دي کاږه دي
د هر چا څېره دوې دوې را معلومېږي

که باور د دښتي مځکې په مثال وي
دا امید کښت به حتماً په کښي رسېږي

زما له قبر سره ډېر قبرونه جوړ کړئ
زما د هیلو مړي نه په کښي ځائېږي

د بې ځایه تهمت څه ناپایه درد وي
چې وختونه پر تېرېږي تازه کېږي

د "روبین" په نوم مې ګل کور کې ساتلی
که دی نه دی د ده مینه په ماتېږي

Tolo E Afghan Journal

طلوع افغان مدیریت له ټاکلي لیکنیز معیار سره سم، د لیکنو په اصلاح کې د لاسوهني حق لري.

ګرانو لوستونکو! په ډېر احترام هیله کېږي، چې دا سپېڅلې پاڼې بې ځایه و نه غورځوئ!

د ګډون کوونکو له پاره خبرتیا!

د طلوع افغان تاریخي خپرونه چې د هیواد په مطبوعاتي تاریخ کې ځانګړی ځای لري. که غواړئ چې د لمریز کال په آخرکې د طلوع افغان تاریخي ورځپاڼې یو بشپړ کلکسیون ولرئ، نو په طلوع افغان ورځپاڼه کې ګډون وکړئ.

د ګډون کلنۍ بیه ۵۰۰- پنځه سوه افغانۍ، زده کوونکو او محصلینو ته د تصدیق په وړاندې کولو سره نیمه بیه ټاکل سوې ده. اداره

مسئول مدیر: ـــــــ بریالی "فیضي"

د تصحیح مسئول: ـــــــ حاجي عبدالله "ذاکري"

کمپوز او ډیزاین: ـــــــ نصیر احمد "صابر"

د مدیریت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۵۶۰۸۶۷۳

د توزیع مدیریت شمېره: ـــــــ ۰۷۰۰۴۹۱۴۳۶

پته: ـــــــ علامه حبیبي واټ – اطلاعاتو او فرهنګ ریاست

د برېښنالیک پته: ـــــــ baryafaiz981@gmail.com

Founded in 1921 ▬ ISSue: 12 ▬ Established in 1300 Hijri

اعلانونه او خبرتیاوي

قرارداد کوي

د کندهار ښاروالي غواړي چې د ۱۴۰۴ مالي کال، د عادي بودجې او تدارکاتي پلان پر اساس، د ترانسپورټ مدیریت د وسایطو له پاره، د ټایرونو، بېټریو او ټوپانو د چهارچوبي خریدارۍ قرارداد اصولاً تر سره کړي. علاقمندان دي خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې د لسمي نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر یو دېرشمي نېټې پورې، د ښاروالۍ ریاست، د تدارکاتو او قراردادونو آمریت اړوند، د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري، د یادې خریدارۍ شرطپاڼه او ضمایم هم له یاد مدیریت او هم د کندهار ښاروالۍ د رسمي ویب پاڼې څخه په سافټ شکل تر لاسه کولای سی، د دې خریدارۍ داوطلبي به د ۱۴۰۴ ل کال د سرطان میاشتې پر اوله نېټه، د یکشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د ټاکل سوي پلاوي په حضور کې، د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کې تر سره سي. علاقمند داوطلبان باید خپل آفرونه د تدارکاتو د قانون، کړنلارې او په شرطپاڼه کې له شرایطو سره سم، ترتیب او په سر تړلې توګه یې د داوطلبۍ د مجلس په ورځ او ټاکل سوي وخت، تعین سوي پلاوي ته تسلیم کړي. هغه آفرونه چې ناوخته راورسېږي، د منلو وړ نه دي او د لا زیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوو شمېرو اړیکه ونیسي:

0704707160 – 0707970760

موټرونه رانیسي

د کندهار ښاروالي غواړي چې د ۱۴۰۴ مالي کال، د انکشافي بودجې او تدارکاتي پلان پر اساس، د ترانسپورټ مدیریت له پاره د دوو عرادو هینو ډمترک مازداوو خریدارۍ قرارداد اصولاً تر سره کړي. علاقمندان دي خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې د دوولسمي نېټې څخه بیا د سرطان میاشتې تر اولي نېټې پورې، د ښاروالۍ ریاست، د تدارکاتو او قراردادونو آمریت اړوند، د تهیه او تدارکاتو عمومي مدیریت ته وسپاري، د یادې خریدارۍ شرطپاڼه او ضمایم هم له یاد مدیریت او هم د کندهار ښاروالۍ د رسمي ویب پاڼې څخه په سافټ شکل تر لاسه کولای سی، د دې خریدارۍ داوطلبي به د ۱۴۰۴ ل کال د سرطان میاشتې پر دوهمه نېټه، د دوشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې د ټاکل سوي پلاوي په حضور کې، د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کې تر سره سي. علاقمند داوطلبان باید خپل آفرونه د تدارکاتو د قانون، کړنلارې او په شرطپاڼه کې له شرایطو سره سم، ترتیب او په سر تړلې توګه یې د داوطلبۍ د مجلس په ورځ او ټاکل سوي وخت، تعین سوي پلاوي ته تسلیم کړي. هغه آفرونه چې ناوخته راورسېږي، د منلو وړ نه دي او د لا زیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوو شمېرو اړیکه ونیسي: 0707970760 – 0704707160

ډېرونکي غواړي

یو باب کانټینر چې د پخې ډوډۍ له پاره، د سرحدي سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت په داخل کې موقعیت لري. روزي خان د ملا ګل میرزوی یې د میاشتې په مبلغ ۰/۳۰۰۰–افغانۍ د دوو کلونو له پاره په کرایه د قرارداد په ډول غوښتونکی دی. هر هغه څوک چې د یاد کانټینر د کرایې د زیاتېدو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې د دیارلسمي نېټې څخه بیا د روان کال د همدې میاشتې تر شلمي نېټې پورې د (۷) ورځو په موده کې، د مستوفیت ریاست، د امارتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي او د درو میاشتو کرایه د تضمین په ډول اخیستل کېږي او د یادې (مزایدې) داوطلبي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې پر یو ویشتمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کې، د امارتي املاکو په لوی مدیریت کې آفرونه پرانیستل کېږي.

❖❖❖

یو باب کانټینر چې د پخې ډوډۍ له پاره، د سرحدي سپین بولدک ولسوالۍ د ګمرک آمریت د سپیني کلا په داخل کې موقعیت لري. تورجان د حاجي جانان زوی یې د میاشتې په مبلغ ۰/۲۰۰۰–افغانۍ د دوو کلونو له پاره په کرایه د قرارداد په ډول غوښتونکی دی. هر هغه څوک چې د یاد کانټینر د کرایې د زیاتېدو خیال ولري، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې د دیارلسمي نېټې څخه بیا د روان کال د همدې میاشتې تر شلمي نېټې پورې د (۷) ورځو په موده کې، د مستوفیت ریاست، د امارتي املاکو لوی مدیریت ته وسپاري، شرطپاڼه کتلای سي او د درو میاشتو کرایه د تضمین په ډول اخیستل کېږي او د یادې (مزایدې) داوطلبي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې پر یو ویشتمه نېټه، د چهارشنبې په ورځ، د سهار پر لس بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کې، د امارتي املاکو په لوی مدیریت کې آفرونه پرانیستل کېږي.

په اجاره یې ورکوي

د کندهار ښاروالۍ ملکیت، د لسمي ناحیې مربوط، د شرقي لین په اډه کې دوهم نمبر کوچنی هوټل، د شرطپاڼې مطابق، د یو کال له پاره د آزادې داوطلبۍ له لارې په اجاره ورکوي. ټول هغه اشخاص چې پر شرایطو برابر وي او غواړي چې په داوطلبي کې ګډون وکړي، خپل غوښتنلیکونه دي د ۱۴۰۴ ل کال د جوزا میاشتې د دوولسمي نېټې څخه بیا د همدې میاشتې تر نهه ویشتمي نېټې پورې، د ښاروالۍ ریاست، د تدارکاتو او قراردادونو آمریت ته وسپاري او وروسته دې شرطپاڼه د مسئول کس څخه تر لاسه کړي، د اجارې د سرجمع څخه شل فیصده تضمین نغداً اخیستل کېږي او د داوطلبۍ مجلس د روان کال د جوزا میاشتې پر یو دېرشمه نېټه، د شنبې په ورځ، د سهار پر نهه بجې، د تعین سوي هیئت په حضور کې، د ښاروالۍ ریاست، د تدارکاتو او قراردادونو په آمریت کې صورت نیسي او د لا زیاتو معلوماتو له پاره دې پر ذکر سوو شمېرو اړیکې ونیسي:

وټساپ: 0707159718 ټیلیفون شمېره: 0700433567

(۱) مخ پاته: **د بشري جنایت په...**

بندي دي، د ټپیانو او شهیدانو د انتقال فرصت نه ورکول کېږي، د مظلومو مسلمانانو د سیمو غصب روان دی، هره ورځ ډېره خطرناکه او نا متوازنه وسله استعمالېږي او تر ټولو دردوونکې خبره داده، چې د نړۍ هیوادونه، ذیدخل جهتونه، بشري بنسټونه او نور مربوط سازمانونه یا چوپه خوله دي او یا یې ډېر کم څه کړي دي.

موږ یووار بیا پر غزه باندې د اسرائیلو بریدونه او نسل وژنه په کلکو ټکو غندو. پر ټولو هیوادونو ږغ کوو، چې د دې ناورین د پای ته رسېدو له پاره هر څه عاجل مثبت اقدامات وکړي او هلته روان ظلمونه او وحشتونه پای ته ورسوي.

په افغانستان کې پر ټول ملت ږغ کوم، چې د راتلونکي جمعې په ورځ، تر لمانځه وروسته، د مسجدونو په محوطو کې په یوه ږغ د فلسطین له مسلمانانو سره د خواخوږۍ، همدردۍ او د هغوی له داعیې څخه د ملاتړ په منظور، د قرآنکریم ختمونه وکړي، فلسطیني مجاهدینو او ملت ته د نجات او نصرت دعاوې وکړي او په عموم کې له هغوی سره خپله همدردي ښکاره کړي.

له الله تعالی غواړم، چې د دې بې چاره او مظلومو مسلمانانو نصرت وکړي، اسرائیلي اشغالګر او د هغوی بهرني ملاتړي هلاک، برباد او ذلیل وګرځوي.

امین یارب العلمین

د افغانستان رئیس الوزرا الحاج ملا

محمد حسن اخند

(۱) مخ پاته: **داوبو ذخیره کولو...**

یاد بند په پیل کې ۸۲ متره او په سر کې پنځه نیم متره بردوالی، ۱۶٫۵ متره جګوالی او ۲۴۵ متره اوږدوالی لري او د یاد بند خنګ ته د ۱۷۵ متره په اوږدوالي او ۶ متره بردوالي سره سپیلوی هم لري چې په یوه وخت کې د دوه نیم میلیونه متره معکب اوبو ذخیره کولو ظرفیت لري.

د یاد بند رغنیزې چارې په لسو میاشتو کې بشپړې سوې، چې لسو کسانو ته په فني، ۳۰ کسانو ته په غیرفني برخو کې کاري زمینه برابره سوې وه.

(۱) مخ پاته: **د سپین بولدک له...**

کورنۍ چې د غړو شمېر یې ۱۵۵۹ او ۳۴ تنه زنداني مهاجر خپل هیواد ته راستانه سوي دي.

له یادو کورنیو سره د اسلامي امارت اړوندو ادارو له خوا، نغدي مرسته سوې او هم مرستندویه مؤسسو ته د مرستې کولو له پاره وروپېژندل سوي دي.

د بل خبر له مخې د کندهار ولایت د تخته پل ولسوالۍ اړوند، په انځرګي کمپ کې سوونو کسانو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې سوي دي.

د افغاني سرې میاشت ریاست ویاند محمد شعیب آغا ویلي، د یاد ریاست له لوري په تېره اوونۍ کې ۷۶۱ تنو کډوالو ناروغانو ته روغتیایي خدمتونه وړاندې سوي دي.

یادو ناروغانو ته په عمومي تداوۍ، وقایوي درملنه او ایزولېشن برخو کې خدمات وړاندې سوي، چې په کښې ۵۴۷ نارینه، ۱۱۴ ښځینه، ۵۵ ماشومان او ۴۵ نجوني شاملې دي.

(۱) مخ پاته: **په فراه کې د ۱۳۳...**

د هغه په خبره، په دې پروژو کې د سیمې سوونو کسانو ته د کار زمینه هم برابره سوې ده.

ورته مهال د یاد ولایت د کلو بیارغوني او پراختیا رئیس مفتي محمد نسیم سرهنګ باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، د دې ولایت د ګلستان ولسوالۍ په بېلابېلو کلو کې د نړیوال بانک په مالي ملاتړ، د ۱۸۳ میلیونو افغانیو په لګښت، د ۱۳۳ پراختیایي پروژو چارې پیل سوې او دې پروژو کې د عمومي او فرعي سړکونو، استنادي دېوالونو، پلچکونو او د یو کوچني بند جوړول شامل دي.

لښکرګاه ښار ته د ننوتلو دروازې د جوړېدو چارې پیل سوې

د هلمند ولایت د ښاروالۍ ریاست مسئولینو ویلي، د یاد ولایت د باباجي ولسوالۍ پر نوي رغول سوي سړک له شمالي لوري لښکرګاه ښار ته د ننوتو دروازې چارې د څه باندې ۱۰ میلیونو افغانیو په لګښت پیل سوي دي.

د لښکرګاه ښاروالۍ د انجنیرۍ او زېربنایي برخې مدیر انجنیر محمد عباس ځیرک باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، د دې دروازې د جوړېدو چارې د هلمند بارک فولادي صنعتي شرکت په مالي ملاتړ، د ۱۰ میلیونو او ۱۵۰ زره افغانیو په لګښت پیل سوي دي.

ورته مهال د سیمې اوسېدونکو د ښاري نظم او ښکلا په برخه کې د ښاروالۍ هڅې ستایلې او ویلي یې دي، چې د دې او ورته نورو پروژو په پلي کېدو سره به په بېلابېلو برخو کې ګڼې اسانتیاوې رامنځته سي.

ټولنیزې رسنۍ

Mustafa Salek:

نجات په درو شیانو کې دی:
امام سهل بن عبدالله التستري رحمه الله ویلي دي: نجات (د جهنم څخه خلاصون) په درو شیانو کې دی:
۱– حلال رزق خوړل.
۲– فرض عبادتونه تر سره کول.
۳– د نبي کریم صلی الله علیه وسلم پیروي کول.
(تفسیر القرطبي: جـ ۲ صـ ۲۰۸)

Habib Imran Popal:

په ژوند کې چې هر څونه د توقع لړونکو دوستانو لیست کوچنی وي، هغونه زړه لږ ماتېږي.

صیام "پسرلی":

تر حد ډېرې خبرې کول؛ ناپوهي ده!

مولوي عبدالقوي "صابرزاد":

چې توکل دې پر الله جل جلاله وي، هیڅکله به هم پر مځکه و نه غورځېږې. دا د رب تعالی وعده ده.

Shafiullah Taand:

زه د یوې داسې کربښې په لټون یم چې ظالم یې ولولي؛ نو ولړزېږي او چې مظلوم یې ولولي، په سکون سي.

Masood Afghan:

د ۱۸ کلنۍ څخه بیا تر ۳۰ کلنۍ پورې، دا دوولس کاله عمر د انسان بر خلیک ټاکونکی وخت ګڼل کېږي، که دې پر ځان کار وکړ، خواري، زحمت او سترپاوې دې یووړلې، نو تر ۴۰ کلنۍ وروسته به هوسائې او که دې په بې ځایه ناسته – ولاړه او د بې کاره خلکو په ملګرتیا تېر کړ، نو د عمر تر آخري سلګۍ به سرګردانه او ستومانه ئې!

حافظ شکیب "شکیب":

د خلکو پر خوشحالۍ باندې حسد مه کوی، ځکه چې تاسو د هغوی د غمونو برخه نه ده لیدلې.

Sayed Ezatullah Pezhman:

پیسې د انسان شرایط بهترولای سي، خو یو څوک په بهتر انسان نه سي بدلولای.

Assadullah Zraswand:

هیله هغه وزرونه دي، چې انسان د سختو توپانونو پر مهال هم الوت ته هڅوي.

Abdulbaqi Rahimi:

اولادونو ته مو وخت ورکړئ!
په دې بوخت ژوند کې موږ ډېر وخت د کار، موبایل، ملګرو او نورو بوختیاوو سره تېروو، خو هېروو چې زموږ کوچنۍ فرشتې (اولادونه) زموږ د پام، مینې او وخت ډېر ضرورت لري.
اولادونه ستاسو د توجه څخه مینه زده کوي، باور پیدا کوي او خپل شخصیت جوړوي.
پیسې به تل پیدا سي، کارونه به خلاص سي، خو د اولاد د ماشومتوب دا قیمتي شېبې بیرته نه راګرځي.
راځئ چې خپلو اولادونو ته وخت ورکړو، له خپلو اولادونو سره خبرې او لوبې وکړو، کتابونه ورته ووایو او احساس ورکړو چې موږ ته تر هر څه زیات مهم دي.